# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

**﴿وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ فَلَن يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ﴾** [محمد: ۴]

**ژباړه:** *« او هغه کسان چې د الله په لار کې وژل شوي؛ نو (الله) یې هېڅکله عملونه له منځه نه وړي (موخو ته یې رسوي او هڅې یې بابیځه نه کوي.)»*

**(ژباړه)**

د ۲۰۲۴م کال د اکتوبر ۱۷مه یهودو او امریکا د یحیی سنوار، چې په مېړانه وجنګېد او هیڅکله یې دښمن ته شا نه کړه، پر شهادت خوښي وکړه.

د سنوار شهادت ټول هغه څه په ډاګه کوي چې په سترګو یې وینئ او هغه چې له سترګو مو پټ دي.

دا چې د امریکا سیاستوال د هغه په قتل تر یهودو ډېر خوشاله دي؛ خپله هغه ژوره کینه او عقده په ډاګه کوي چې په زړونو کې یې پټه کړې وه. دوی د مسلمانانو لپاره دردوونکې او کفارو لپاره خوشالوونکې صحنه کې په خپله خوشالۍ د غزې، مجاهدینو، بلکې د ټول فلسطین د خلکو او ان ټول اسلامي امت پر وړاندې خپله دښمني اعلان کړه.

د طوفان الاقصی عملیاتو زموږ په خاورو (یعنې صهیونیستي رژیم) کې د امریکا مرکز او هډو ته سخته ضربه رسولې؛ داسې چې امریکا اوس د دغه رژیم په لاسونو موږ بمباروي تر څو د دغه رژیم تللی اعتبار او ابرو بیرته راولي. امریکا او یهود هڅه کوي چې په خپل ټول توان او ټولوژنو، د لږ شمېر مجاهدینو ـ چې ډېر ابتدایي تجهیزات لري ـ شهیدول لویه بریا وښیي. ایا دا دولتونه چې د یوه سړي وژل دومره ستره بریا ګڼي؛ په ریښتینې جګړه کې څه شی ګڼل کېږي؟ او ایا دا دولتونه چې د ماشومانو، ښځو او بوډاګانو وړي ساتل او سوځول بریا ګڼي، پیاوړي دولتونه دي؟

د ښځو او ماشومانو شهادت چې تر خیمو لاندې وسوځېدل او د جګړې په ډګر کې د سنوار شهادت؛ د مسلمانانو د حکامو - چې له ذلت، خوارۍ او خیانت سره راحت ژوند لري - پر مخ خاورې شیندي. هغه حکام چې په خپلو ماڼیو کې پراته دي او په خیانت کې ژوندي خښېږي؛ هغه حکام چې امریکا او یهودو یې پزه پر ځمکه موږلې او ذلیل کړي یې دي؛ خو دوی هیڅ حس نه لري!

امریکا او د دوی د بریدونو مخته وړونکي پر ځان ویاړي چې وژل کوي، ویجاړول کوي، ترورونه کوي او خلک وږي ساتي؛ په داسې حال کې چې زموږ د حکامو حس بیخي له منځه تللی. زموږ له منځه تر ټولو کوچنی عاقل کس دغه وضعیت ته په غوسه دی؛ خو حکام ان یوه ذره احساس هم نه ورته لري! افسوس پر دوی او د دوی پر کړنو!

د یحیی سنوار شهادت او د هغو مجاهدینو شهادت چې تر ده وړاندې یې ځانونه قربان کړل او د دښمن پر وړاندې د ثبات، زړورتیا، فداکارۍ، قربانۍ او عزت نمونې یې وړاندې کړې؛ د اسلامي امت سرتېرو ته ستر او ګرم پیغام ورکوي.

**ای د اسلامي امت سرتېرو!** دغو کسانو، چې ډېر لږ تجهیزات لري، پرې نه ښوده چې د جګړې له میدانه بهر ووژل شي؛ بلکې د شهادت لپاره یې د جګړې ډګر غوره کړ؛ خو له تاسو سرتېرو ډېرو مو تر اوسه په ریښتینې جګړه کې ګډون نه دی کړی؛ په

داسې حال کې چې د جګړې او جنګېدو خلک يئ او بايد د جګړې په ډګر کې وئ! که مجاهدينو د جګړې اور بل کړ، تاسو بايد دوی ته د جګړې په ډګر کې د خپلو استازو او ځايناستو په سترګه ونه ګورئ؛ بلکې دوی ستاسو د ويښتابه زنګ وو چې په وروستۍ جګړه کې ګډون وکړئ!

ايا راضي يئ چې په جنت کې ستاسو مقامونه له دوی لرې وي؟ په داسې حال کې چې دوی وړاندې شول او تاسو شاتګ وکړ! دوی وجنګېدل او تاسو يې مرستې ته ور ونه دانګل! دوی قيام وکړ او تاسو هيڅ ونه خوځېدئ! دښمن له تاسو تېر شو خو تاسو يې پر وړاندې ونه درېدئ؛ په داسې حال کې چې د مخنيوي قدرت يې درسره و! دښمن د رسول الله صلی الله عليه وسلم قبله ګاه اشغال کړه خو تاسو يې د ازادۍ لپاره ور ونه دانګل! دښمن مو په غزه، فلسطين او لبنان کې کورنۍ در ووژلې خو تاسو هيڅ له ځايه پورته نه شوئ او د الله سبحانه و تعالی په لار کې مو حرکت ونه کړ!

ايا د دې وخت نه دی رارسېدلی چې له مجاهدينو سره ـ چې دښمن ته يې ضربه رسولې- غبطه وکړئ او د ازادۍ مخکښان او د بدلون پيلوونکي وئ؟ ايا د دې وخت نه در رارسېدلی چې د حکامو تختونه مات کړئ، پولې تر پښو لاندې کړئ، يو موټی شئ او د اسلام او جهاد بيرغ پورته کړئ؟

ايا د دې وخت نه دی رارسېدلی چې د دښمنو ځان ستاينه ـ چې موږ تر مرګ هم ډېر ځوروي- بنده کړئ او زموږ زړونو ته شفا ورکړئ؟ اې د اسلام سرتېرو! ايا د دې وخت نه دی رارسېدلی؟ ايا د دې وخت نه دی رارسېدلی؟

**ای د محمد صلی الله عليه وسلم امته! ای تر ټولو غوره امته چې د خلکو لپاره راغلي يئ!**

زموږ باور او اعتماد پر الله سبحانه و تعالی دی! هغه سبحانه و تعالی زموږ ولي دی او کافران هيڅ ولي نه لري. الله سبحانه و تعالی له تاسو شهدا ټاکي. ای اسلامي امته! تاسو به نور اتلان راوړئ. نو موږ تاسو او ستاسو سرتېري په دغه الهي بلنه رابولو:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا اللهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ (٧) وَالَّذِينَ كَفَرُوا فَتَعْسًا لَهُمْ وَأَضَلَّ أَعْمَالَهُمْ (٨) ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا مَا أَنْزَلَ اللهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ (٩) أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ دَمَّرَ اللهُ عَلَيْهِمْ وَلِلْكَافِرِينَ أَمْثَالُهَا (١٠) ذَلِكَ بِأَنَّ اللهَ مَوْلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَأَنَّ الْكَافِرِينَ لَا مَوْلَى لَهُمْ﴾**[محمد: 7- 11]

**ژباړه:** *«ای مومنانو! که د الله (د دين) مرسته وکړئ؛ نو مرسته به درسره وکړي او پښې به مو ټينګې کړي. او څوک چې کافران شوي؛ پر هغوی دې مرګ وي! او عملونه يې دې ورک وي؛ دا ځکه چې دوی له هغه څه (قرآن) کرکه وکړه چې الله نازل کړي؛ نو الله يې (هم) عملونه باطل او بې ګټې کړل. نو ايا دوی په ځمکه کې ګرځېدلي نه دي، چې وګوري له دوی د مخکې کسانو عاقبت څنګه و؛ الله دوی وځپل او کافرانو ته همدغسې سزاګانې دي! دا ځکه چې الله د مومنانو سرپرست او ولي دی؛ خو د کافرانو کوم سرپرست او ولي نشته»*

**د حزب التحرير مطبوعاتي دفتر – سپېڅلې خاوره (فلسطين)**

**د صدور ګڼه: ١٠/١٤٤٦**

**١٤٤٦هـ.ق کال د ربيع الثاني ١٥مه**

**٢٠٢٤م کال د اکتوبر ١٨مه**